د افغانستـــان اســــلامي امارت

د ارشـــــاد، حج او اوقافو وزارت

د مساجدو د ارشاد او انسجام عمومي رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی

تقرير اوبيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو

ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۲۹/ربيع الثانی/۱۴۴۶ هـ، ق مطابق ۱۱/ عقرب/۱۴۰۳هـ، ش

# په ټولنه کې د مشرانو احترام او درناوی او پر کشرانو شفقت او ترحم کول ضروري دي

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين ، حمداً يليق بجلاله وكماله،حمداً على قدر حبه لرسوله الأمين، حمداً يوازي عطاءه للمؤمنين، والصلاة والسلام على خير خلقه ، خاتم النبيين، وإمام المرسلين؛ سيدنا محمد، وآله وصحبه، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين أجمعين ، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: {مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعاً سُجَّداً يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَاناً سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْأَنْجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْراً عَظِيماً} الفتح:(۲۹)

**درنو حاضرينو او پتمنو اوريدونکو!**

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

انسان په درې مرحلو تيريږي که چيرې ژوند ورسره ياري وکړي: لومړۍ مرحله؛ د کوچني والي او طفوليت مرحله.کله چې انسان ماشوم وي په دې وخت کې انسان د نورو خلکو مرستې او اهتمام ته اړتيا لري او مور او پلار کوښښ کوي چې د ماشوم ضرورتونه پوره کړي او د هغه هر لحظه خيال ساتي او د کال په يخ او گرم موسمونوکې يې هم د خپل کوچني خيال ساتي.

ددې څخه وروسته د ځواني مرحله راځي، په دې مرحله کې د انسان د وجود ټول اعضاء پياوړي وي او ټول حواس يې کار کوي او په دې مرحله کې يې جسمي قوت ښه غښتلی وي او ذهني توازن يې هم برابر وي، او مسلمان ځوان تل د نورو سره دمرستې او لاسرسي په لټه کې وي او ډير خدمتونه کوي ؛ ځکه مسئوليتونه ورته متوجه کيږي. ځواني هغه نيکمرغه مرحله ده چې الله تعالی يې صفت کړی دی، الله د اصحاب کهف چې ځوانان ؤ داسې صفت کړی دی: (إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى) الکهف:(۱۳)

ترجمه:هغوی څو تنه زلميان وو چې پر خپل پروردگار يې ايمان راوړی و او موږ يې هدايت لا ور زيات کړ.

د ځوانۍ د مرحلې څخه وروسته د سپين ږيرې توب او کمزورۍ مرحله راځي، چې انسان لکه د ماشوم په شان بيرته کمزوری کيږي ، وجود يې ضعيفه کيږي او په حواسو کې يې هم خلل رامنځ ته کيږي او لکه د ماشومتوب په شان د نورو مرستې او کومک ته اړ کيږي اوبيا د خلکو مسئوليت دی چې ددوی مرسته او لاس نيوی وکړي او ددوی خيال وساتي ، چې دا مرحله داسلام په مبارک دين کې د ډير احترام او درناوي څخه برخمنه ده او په اسلامي شريعت کې د مشرانو او سپين ږيرو زيات فضيلت بيان شوی دی.

دغو درى واړو مرحلو څخه الله جل جلاله داسې يادونه کوي: (اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ ضَعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَهُوَ الْعَلِيمُ الْقَدِيرُ).الروم:(۵۴)

ترجمه:الله هغه ذات دى چې تاسي يې له کمزورتيا څخه پيدا کړئ، بيا يې له کمزورى وروسته قوت درکړ، بيا يې له قوت وروسته کمزورتيا او زوړوالى، څه يې چې خوښه وي پيدا کوي يې او هماغه ډېر پوه قدرت والا دى.

د مشرانو درناوى او احترام د ټولنيز ژوندانه دتکافل او د اسلامي کورنۍ او ټولنې دپرمختګ او تمدن د بنسټونو د ټينګتيا ډيره لوړه نښه ګڼل شوې ده.

په تيرو اسلامي اديانو کې به هم د سپين ږيرو خاص خيال ساتل کيده او د هغوى ضرورتونو ته به د خلکو توجه کيدله.

الله تعالى د موسى عليه السلام او د شعيب عليه السلام د لوڼو واقعه ذکر کړې ده او فرمايلي يې دي: (وَلَمَّا وَرَدَ مَاء مَدْيَنَ وَجَدَ عليهِ أُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ امْرَأتَيْنِ تَذُودَانِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لاَ نَسْقِي حَتَّى يُصْدِرَ الرِّعَاء وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ) القصص: ۲۳

ترجمه:او کله چې ورسېد اوبو(کوهي)د مدين ته؛ نو يوه ډله خلک يې وموندل چې خپل څاروي اوبه کوي او وه يې مندلې علاوه ددوى څخه دوه ښځې چې خپل څاروي يې را ايسارول يې څاروي خپل ( چې له نورو څاروو سره ګډ نشي) وويل دوى ته موسىٰ عليه السلام :ستاسو دواړو څه حالت دى (چې څاروي اوبو ته نه پريږدى)؟ هغو دواړو موسى عليه السلام ته وويل: موږ خپلو څاروو ته اوبه تر هغې نه ورکوو ؛ ترڅو چې دا شپانه بېرته نه وي ګرځېدلي( او مونږ ته کوهى له سړو نه وي خالي شوى) او زموږ پلار ډېر سپين ږيرى دى.

په پورتني مبارک آيت کې د شعيب عليه السلام لوڼو ، موسى عليه السلام ته وويل چې زمونږ پلار سپين ږيرى دى؛ نو مونږ رمې پيايو؛ ځکه چې زمونږ پلار د مرستې او همکارۍ ته اړتيا لري.

د يوسف عليه السلام ورونو هم د خپل پلار سپين ږيرتوب پاچا ته وسيله کړ او وه يې وويل: (قَالُواْ يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ إِنَّ لَهُ أَبًا شَيْخًا كَبِيراً فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ ) يوسف : ۷۸

ژباړه:دوى وويل:اى عزيزه!د ده يو زوړ سپين ږيرى پلار دى، نو د ده پر ځاى له موږ څخه يوکس ونيسه، بيشکه مونږ تا له نيکانو څخه.

په پورتني مبارک آيت کې د يو سف عليه السلام ورونو وويل چې زمونږ پلار سپين ږيرى دى او هغه ته له دينه آزار او اذيت رسيږي که چيرې تاسې له مونږ سره بنيامين پرى نږدى.

د مشرانو د احترام او درناوي کې دا ضرور نه ده چې مشران بايد حتماً سپين ږيري وي؛بلکې د مشرانو د احترام څخه مراد هر هغه څوک چې له تا څخه په عمر کې مشر وي هغه مستحق د احترام او درناوي دى.

داسلام په مقدس دين کې د مشرانو احترام او درناوى کول دومره مهم دي، چې نبي عليه السلام فرمايلي دي چې څوک زمونږ دمشرانو احترام نه کوي زمونږ له ډلې څخه نه دى.

او چې څوک پر کشرانو شفقت او ترحم ونکړي نبي عليه السلام فرمايي چې هغه زمونږ له ډلې څخه نه دى. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَلَمْ يُوَقِّرْ كَبِيرَنَا وَيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَ عَنْ الْمُنْكَرِ). سنن الترمذي رقم الحديث: ۱۹۲۱

ژباړه: د حضرت ابن عباس رضي لله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه څوک زمونږ څخه نه دى؛ چي زموږ پر کشرانو رحم نه کوي او زمونږ د مشرانو عزت نه کوي ، په نيکۍ حکم نه کوي او د بدۍ څخه منع نه کوي .

عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ،قَالَ: ثَلاثَةٌ حَقٌّ عَلَيْكَ أَنْ تُوَقِّرَهُمْ: ذُو سُلْطَانٍ مُقْتَصِدٌ، وَحَامِلُ كِتَابِ اللَّهِ، وَذُو الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمُ. أمالي ابن بشران - الجزء الثاني (ص: ٣٣٠)

ژباړه:عبدالله بن ابي مليکة چې جليل القدر تابعي ؤ( رحمه الله) وايي: درى کسان دي پر تاپې حق دی چې ته يې احترام وکړی: خاوند د سلطنت عادل، د قرآن کريم حافظ او بل هغه مسلمان چې په ږيره کې يې سپين ويښته راټوکيدلي وي.

د اسلام په سپڅلي دين کې د مشرانو احترام کول داسې دي لکه دالله تعالی تعظيم کول . په حديث شريف کې راځي: عن أبي موسى الأشعري قال: قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم-:«إن من إجلالِ الله إكرامَ ذي الشيبَةِ المسلمِ، وحاملِ القُرآنِ غيرِ الغالي فيه والجافي عنه، وإكرامَ ذي السُّلطَانِ المُقْسِطِ». سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٧ /٢١٢)

ژباړه:د ابو موسی اشعری رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: بيشکه دالله تعالی له تعظيم څخه ده د هغه مسلمان احترام کول چې په ږيره کې يې سپين ويښته لګيدلي وي او د قرآن کريم دحافظ چې غلو کوونکی نه وي په قرآن کريم کې او جفا کوونکی(مخ ګرځوونکی) نه وي له قرآن کريم سره او احترام کول دپاچا چې عادل وي.

داسلام مقدس دين د مشرانو اوخصوصاً د سپين ږيرو خاص رعايت کړی دی ؛ آن تر دې پورې نبي عليه السلام فرمايلي دي چې کله تاسو لمونځ ورکوئ؛نو د ماشوم او سپين ږيرو د حالت خيال په نظر کې وساتئ. په حديث شريف کې راځي: عن أبي هريرة رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال:«إذَا صلى أَحَدُكُم للنَّاسِ فَليخَفِّف؛ فَإنَّ فِيهِمُ السَّقِيمُ ، وَالشَّيخَ الكَبيرَ ، وَذَا الحَاجَةِ ».الموطأ (١ /١٣٤)، سنن أبى داود-ن (١ /٢٩٢)

ژباړه:له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی, هغه وايې چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل:کله چې يو له تاسو څخه خلکوته لمونځ ورکوي هغه ته ښايي چې لمونځ لنډ اداء کړي ځکه د لمونځ کوونکو په منځ کې رنځوران، سپين ږيري او ضرورت لرونکي کسان وي

په اسلام کې د هغه چا زيات لوړ مقام دی چې ږيره يې په اسلام کې سپينه شوي وي . په حديث شريف کې راځي: عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَشِيبُ شَيْبَةً فِي الْإِسْلَامِ إِلَّا كُتِبَ لَهُ بِهَا حَسَنَةٌ، وَرُفِعَ بِهَا دَرَجَةً، أَوْ حُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ» مسند أحمد مخرجا(١١ /٢٥٣)

ژباړه:د عمرو بن شعيب څخه روايت دی ، شعيب له خپل پلار محمد له لارې د خپل نيکه (عبدالله بن عمرو بن العاص) څخه روايت کوي،د شعيب نيکه (عبدالله بن عمرو) وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: داسې مسلمان نشته چې د هغه په ږيره کې سپين ويښته راو ټوکيږي؛مګر ليکل کيږي د هغه لپاره د سپين ويښته په وجه يوه نيکي او اوچته به کړل شي (په آخرت کې) د هغه يوه درجه يا يې داسې وفرمايل چې کمه به کړل شي له هغه څخه د(هر) سپين ويښته په وجه يوه ګناه.

ددې حديث د سفيان رحمه الله په روايت کې راځي چې:« إِلاَّ كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ». سنن أبى داود-ن(٤ /١٣٦)

ژباړه: مګر داچې دده د ږيرې سپين ويښته به دده لپاره نور او روښنايي وي د قيامت په ورځ.

په يو بل حديث شريف کې راځي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِكُمْ؟» ، قَالُوا: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ: «خِيَارُكُمْ أَطْوَلُكُمْ أَعْمَارًا، وَأَحْسَنُكُمْ أَعْمَالًا». مسند أحمد مخرجا (١٢ /١٤٦)

ژباړه:د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:خبردار! آيا تاسې خبر نکړم ستاسو په بهتره خلکو باندې؟ صحابه کرامو وويل: بلی!خبر مو کړه ای دالله رسوله! نبي عليه السلام وفرمايل: غوره ستاسې هغه د زيات عمر والا ستاسو دي او د نيکو عملونو والا ستاسو دي.

د نيکی بدله په نيکی سره ده ، که چيرې کشران د مشرانو احترام او درناوی وکړي ، دده به هم احترام کيږي.

په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أَكْرَمَ شَابٌّ شَيْخًا لِسِنِّهِ إِلَّا قَيَّضَ اللَّهُ لَهُ مَنْ يُكْرِمُهُ عِنْدَ سِنِّهِ».سنن الترمذي (٤ /٣٧٢)

ژباړه:د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:عزت نه کوي يو ځوان ديو سپين ږيري د هغه د عمر په وجه ؛ مگر داچې الله تعالی به مقرر کړي ده لره داسې څوک چې دده عزت به کوي دده د سپين ږيرتوب پر وخت

د پورتنيو معلوماتو په اساس ويلای شو چې په ټولنه کې دوه قسمه خلک ژوند کوي يو مشران او بل کشران چې يو د بل په وړاندې خورا زيات مسئوليتونه لري.

نن سبا په ټولنه کې اسلامي اخلاقو او ارزښتونو ته پاملرنه کمه شوی ده او په ټولنه کې د مشرانو احترام او درناوی په کې نه مراعت کيږي؛ ځکه چې ځوان نسل د اجتماعي شبکو په مرض اخته شوي دي او اسلامي ارزښتونو ته هيڅ توجه نه کوي.

## الف/ په ټولنه کې د مشرانو احترام او درناوی صورتونه او بيلگې:

په ټولنه کې د مشرانو داحترام او درناوی څخه مقصد دادی چې څوک ستا څخه د عمر په لحاظ يا دعلم په لحاظ لوی وي ، پر تا باندې د هغه احترام او درناوی کول لازم دي. داسلامي ټولنې له نورو کفري ټولنو سره اساسي توپير دادی، چې په اسلامي ټولنه کې دمشرانو ځانگړی درناوی کيږي او په کفري نړۍ او ټولنه کې مشر هيڅ ارزښت نلري او په غرب کې کله چې څوک بوډا شي؛ نو دهغه ځای دارالمسِّنين وي؛ چيرته چې نه زوی وي، نه ورور، نه لمسی او نه د خپلو کشرانو درناوی او احترام موجود وي؛ بلکې لکه د څارويو په شان په منډويو کې ساتل کيږي.

ددې لپاره چې د خپلو مشرانو احترام او درناوی مو کړی وي، په کشرانو لازم چې لاندې خبرې عملي کړي:

١-د مشرانو عزت کول او د هغه څه نه ځان ساتل چې د مشرانو د آزار او آذيت سبب گرځي ، که هغه وينا وي او که عمل وي او د مشرانو اوامر پرځای کول، مشرانو ته په خبرو کې لومړيتوب ورکول او په لمانځه کې ورته په مخکني صف کې ځای ورکول.

دا هغه کارونه دي چې په دې سره د مشرانو احترام پرځای کيږي، خصوصا که مشران مور او پلار وي، يا نيکه ، تره ، ماما وي، مشر ورور وي، په دې صورت کې د هغوی د خبرو منل په کار دی؛ ځکه دوی دوه ډوله حقونه لري؛ يو دمشرولی حق او بل د صله رحمی حق. او حتی دمور او پلار خبره منل فرض دي او مخالفت يې دالله دعذاب سبب دی. الله تعالی فرمايلي دي: {وَقَضَى رَبُّكَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلاَ تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلاَ تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلاً كَرِيمًا(٢٣) وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا}.الإسراء : ٢٣-٢٤

ترجمه: او حکم فرمايلی دی رب ستا چې عبادت مه کوئ تاسې، مگر يواځې هم ددغه( الله) او( احسان کوئ ) د والدينو سره په احسان کولو سره ، او که چيرې هرومرو ورسيد تاڅخه( حدود) زوړوالي ته يو له دې دواړو يا دواړه ددوی، نو مه وايه ته دې دواړو ته ( کلمه د) اف ( هم ) او مه رټه دوی دواړه او وايه دواړو ته خبره پسته (ادب ناکه) او ښکته کړه دپاره ددې دواړو وزر( اوږه) د تواضع له مهربانۍ او وه وايه ای ربه زما مهرباني او ( ښښنه) وکړه دې دواړو ته لکه چې تربيه (پالنه) يې کړی ده زما په هغه حال کې چې زه صغير وم.

په پورتني مبارک آيت کې الله تعالی مونږ ته په پنځو خبرو امر کړی دی: لومړی؛ د مور او پلار په مخکې به أُفْ قدرې هم مه وايه.أُفْ هغه کلمه ده چې مور او پلار ته ورڅخه تکليف رسيږي. دوهم: مور او پلار مه رټی.ځينې بدعمله بچې مور او پلار رټي او يا ورته سپکې سپورې وايې چې دا کبيره گناه ده. دريم: مور او پلا ته خوږه خبره کوه. په اولادونو فرض دي چې کله د مور او پلار سره خبرې کوي په ډيره خوږه او نرمه لهجه او د مهربانۍ څخه په ډکه لهجه ورسره خبرې وکړي. څلورم: دمور او پلار په مخ کې د مهربانۍ وزرې ښکته کړئ. يعنې تل يې په مخ کې عاجزي غوره شي او تل ورسره مهربانۍ وشي.پنځم: مور او پلار ته د رحمت دعاء کوه. په کار ده چې په هر وخت کې د مور او پلار لپاره دعاء وغوښتل شي، په ځانگړې ډول په لمانځه کې يا د دعاء داستجابت په وختونو او ځايونوکې.

مشرانو ته باید په لومړي صف کې ځای ورکړل شي.په حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « لِيَلِنِى مِنْكُمْ أُولُو الأَحْلاَمِ وَالنُّهَى». صحیح مسلم (۲ /۳۰)

ژباړه:له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: خامخا ماپسې دې نږدې ودریږي ستاسو څخه بالغان او خاوندان دعقل.

دا حدیث د مشرانو او دهغوی په مقام او ارزښت باندې دلالت کوي.

په مجلس کې چې کله خبرى کیږي باید مشرانو ته لومړیتوب ورکړل شي.په یو روایت کې راځي چې په یوه واقعه کې مُحَيِّصَةُ او د هغه څخه مشر ورور حُوَيِّصَةُ او عبدالرحمن بن سهل د نبي علیه السلام حضور ته راغلل، مُحَيِّصَةُ خبرى کول پیل کړل نبي علیه السلام ورته وفرمایل: «كَبِّرْ كَبِّرْ»، يُرِيدُ السِّنَّ، فَتَكَلَّمَ حُوَيِّصَةُ، ثُمَّ تكَلَّمَ مُحَيِّصَةُ). متفق علیه

ژباړه:مشر ته نوبت ورکړه (چې خبرې وکړي)! مشر ته نوبت ورکړه!( چې خبرې وکړي) مقصد یې په عمر کې مشروالی ؤ، بیا خبرې وکړې د هغه مشر ورور حُوَيِّصَةُ او له هغه څخه وروسته بیا محیّصه خبری وکړی.

بدرالدین عیني رح ددې حدیث شریف په شرح کې وایي: په دې حدیث کې ادب او ارشاد دی، چې مشر زیات مستحق دی د خبرو کولو لپاره .عمدة القاري (۲۲/ ۳۸۵)

په یو بل روایت کې راځي چې نبي علیه السلام به تل د مشر خیال ساتلو ، ځکه د مشر خیال ساتل دهغه احترام او درناوی دی.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« أَرَانِي أَتَسَوَّكُ بِسِوَاكٍ فَجَاءَنِي رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ الْآخَرِ فَنَاوَلْتُ السِّوَاكَ الْأَصْغَرَ مِنْهُمَا فَقِيلَ لِي كَبِّرْ فَدَفَعْتُهُ إِلَى الْأَكْبَرِ مِنْهُمَا». صحیح البخاري (۱ /۲۵٦)

ژباړه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی،هغه وایي چې یقیناً نبي علیه السلام وفرمایل: ما په خوب کې خپل ځان ولیدلو، چې زه په خپله خوله کې مسواک وهم، ماته دوه سړي راغلل چې یو یې لوی ؤ له هغه بل څخه ، نو ما مسواک هغه کشر ته ورکړ ، نو ماته وویل شول (جبریل علیه السلام راته وویل) چې مشر ته یې ورکړه ، نو ما بیا هغه مسواک هغه مشر ته ورکړ.

ددې حدیث په شرح کې امام بطال رح وایي: ددې حدیث څخه په استدلال سره، په کارده چې مشر ته لومړیتوب ورکړل شي په خوراک کې، په څښاک کې ، په خبرو کې ، په لاره تللو کې .شرح صحیح البخارى (۱ /۳٦٤)

د صحابه کرامو ځوانان په ادب کې او دمشرانو په احترام کې زمونږ د لارې مشعل دي ، هغوی به کوښښ کولو چې د مشرانو په مخ کې خپلو خبرو ته لومړیتوب ورنکړي. په یو حدیث شریف کې راځی: عَنْ سَمُرَةَ بن جُنْدُبٍ: «لَقَدْ كُنْتُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلاَمًا، فَكُنْتُ أَحْفَظُ عَنْهُ، فَمَا يَمْنَعُنِي مِنَ الْقَوْلِ إِلاَّ أَنَّ هَا هُنَا رِجَالاً هُمْ أَسَنُّ مِنِّي». صحیح مسلم (۲ /٦٦٤)

ژباړه: د سمره بن جندب رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې هلک وم ، مابه د نبي علیه السلام څخه احادیث یادول، زه به نه منع کولم د حدیث بیانولو څخه مگر دا چې دلته ځینې سړي ؤ چې هغوی زما څخه د زیات عمر والا ؤ (نو ما به دهغوی داحترام په خاطر حدیث نه بیانول).

ددې په شرح کې قاضي عیاض رح وایي:د مشرانو او پوهانو په شتون کې د ځان مخکې کول بې ادبي ده.إكمال المعلم بفوائد مسلم (۳ /٤۳۱)

۲-د مشرانو د احترام او درناوی بله کړنه داده چې مشران د مجلس په سر کې کېنول او د مشرانو سره په مهربانی او نرمی سره خبری کول او که چیرې مجلس ته مشران راشي هغوی ته ځای پریښودل؛ په ځانګړې توګه که چیرې عالم وي یا دقرآن کریم حافظ وي. په ټولنه کې پر ځوانانو او کشرانو لازم دي چې مشرانو ته په خپل نوم باندې آواز ونه کړي ؛ بلکې ورته دې په مولوي صاحب ، قاري، تره کاکا ، ماما او یا حاجي صاحب، یا په بل کوم د احترام په لفظ سره دې ورته خطاب وکړي.

که چیرې کوم مشر مجلس ته راشي باید د هغه داحترام لپاره کشران ورپاځي. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ أَهْلَ قُرَيْظَةَ نَزَلُوا عَلَى حُكْمِ سَعْدٍ فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِ فَجَاءَ فَقَالَ:« قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ ». صحیح البخاري (۱۵ /۵٦۸)

ژباړه:د ابو سعید خدری رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې بنو قریظه راښکته شول په حکم د سعد بن معاذ رضي الله عنه ، نو نبي علیه السلام په سعد بن معاذ رضي الله عنه پسې یو کس ولیږلو بیا هغه راغی (کله چې رانږدې شو) نبي علیه السلام صحابه کرامو ته وویل:پاڅیږئ خپل مشر ته .

امام نووي رحمه الله ددې حدیث په شرح کې وایي:په دې حدیث کې د فضیلت خاوندانو اکرام کول پروت دی او دا خبره هم په کې پرته ده چې د فضیلت خاوندانو سره د ملاقات لپاره هغوی ته په پاڅیدلو سره اکرام باید وشي. همدارنګه په دې حدیث باندې جمهورو علماوو حجت نیولی دی په استحباب د قیام باندې. زه وایم پاڅیدل د فضیلت خاوندانو ته مستحب دي او په دې باره کې زیات احادیث راغلي دي او په نهی کې هیڅ صریح درست شی نشته.شرح النووي علی مسلم(۱۲ /۹۳)

۳-بل هغه کار چې دمشرانو د احترام لپاره باید ترسره شي ، په مشرانو باندې سلام اچول دی، ځکه هغوی ددې عزت مستحق او لائق دي او همدا دشریعت هدایت دی.په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« يُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الْكَبِيرِ وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ». صحیح البخاري ت (۱۵ /۵۱٦)

ژباړه: دابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له نبي علیه السلام څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: سلام به اچوي کشر په مشر باندې او سلام به اچوي تیریدونکی (په لار) په ناست باندې او سلام به اچوي کم (خلک) په ډیرو (خلکو) باندې.
۴-د مشرانو د احترام بل شکل دادی چې له مشر څخه به په لاره کې مخکې نه ځئ او له مشرانو سره به خصومت نه کوئ.
۵-د مشرانو داحترام او درناوی بله بیلګه داده چې په مشرانو پورې به مسخرې نه کوئ او په خبرو پورې به یې استهزاء نکوئ.
ځکه د مشرانو احترام اسلامي ارزښت دی چې د احترام نه کولو له امله ئې مسلمان ګناهګاریږي. په حدیث شریف کې راځي: عن أبي أمامة عن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال:« ثلاث لا يستخف بهم إلا منافق ذو الشيبة في الإسلام وذو العلم وإمام مقسط». الترغيب والترهيب (۱ /٦۵)،جامع بيان العلم وفضله لابن عبدالبر(۱ /۵۴۳)
ژباړه: د ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: دری کسان دي چې سپک به نه ګني دوی مګر منافق: ۱- سپین ږیری په اسلام کې.۲- خاوند دعلم . ۳-او عادل پاچا .
٦-د مشرانو د احترام او درناوي څخه د مشرانو لاسونه ښکول دي . که چیرې مشر پلار، نیکه یا عالم وي، د هغه لاسونه ښکول مستحب دي .امام نووي رحمه الله لیکي: (إذا أراد تقبيل يد غيره، إن كان ذلك لزهده وصلاحه أو علمه أو شرفه وصيانته أو نحو ذلك من الأمور الدينية لم يُكره بل يُستحبّ) الأذكار النووية (۱ /۳۳۳)
ژباړه: کله چې وغواړي چې د بل چا لاسونه ښکل کړي ، که چیرې دهغه لاسونه ښکول د هغه د زهد، صلاح، علم، شرف او د هغه دساتنې په موخه وي یا داسې نور دیني امورو په وجه وي ، نو دا مکروه نه دي ؛ بلکې مستحب دي.

په دیني امورو کې مور او پلار او نور صالح مشران هم شاملیږي.

وفي المحيط: إن لتعظيم إسلامه وإكرامه جاز، الدر المختار (٥ /٧٠١)

ژباړه: په محيط کې راځي چې که چيرې د لاسونو ښکلول د هغه داسلام دتعظيم او اکرام لپاره وي بيا دا جايز دي.

مونږ هم د مشرانو احترام او درناوی د هغوی داسلام په وجه کوو.

٧-د مشرانو د احترام بله بيلګه داده چې د مشرانو په مخکې بايد د حياء خيال وساتو او د هغوی په مخکې هغه کړني او خبرې ونه کړو چې د حياء خلاف وي. ځکه چې مشران د کشرانو په بې حيايي سره زيات خپه او ستومانه کيږي. خصوصاً هغه وخت چې د خپل کشر څخه د بې حيايي کار او خبره واوري چې هغه يې په صله رحمی کې راځي لکه زوی، لمسی، وراره، خوری او داسې نور.
٨-د مشرانو د احترام د بيلګې څخه دا هم دي چې په خوراک او څښاک کې هغوی ته لومړيتوب ورکړل شي، په ختلو او کوزيدلو کې هم هغوی ته لومړيتوب ورکړل شي.

## ب/ په ټولنه کې پر کشرانو شفقت او ترحم کول ضروري دی:

لکه څرنګه چې مشران پر کشرانو داحترام او درناوی حق لري؛ دارنګه کشران هم پر مشرانو د شفقت او ترحُم حق لري.
زمونږ په ټولنه کې د کشرانو حقوقو ته په ډيره کمه اندازه توجه او پاملرنه کيږي او همدا وجه ده چې ځوانان مو بې لاريو ته مخه کوي.

پر کشرانو د شفقت او ترحم څخه مراد په کشرانو او کوچنيانو مهرباني کول، د هغوی سره د ژوند خصوصاً ددين او تربيت په کارونو کې مرسته کول، هغوی ته خوږه خبره کول، د هغوی د ضرورتونو خيال ساتل، د کشرانو سره د هغوی عمر سره سم خوش طبيعتي کول، هغوی ته خبرو کولو فرصت ورکول، هغوی نيکو کارونو ته تشويقول، هغوی خپلو خطاګانو ته په نرمه لهجې سره متوجه کول، هغوی ته وخت ورکول، له هغوی سره يوځای ډوډی خوړل او دهغوی صحت او رواني حالت ته توجه کول اوداسې نور.

کشران او په ځانګړې توګه مخ په وده ماشومان چې د هغوی ذهن د هر قسم معلوماتو جذبولو ته اماده وي او هغوی دې ته اړتيا لري چې له مشرانو دين، اخلاق او د ژوند آداب زده کړي او د مشرانو پيروي وکړي ، که چيرې مشران په کشرانو شفقت او ترحم ونکړي ، هغوی به د ديني زده کړو او د پيروی څخه بې برخې پاتې شي لکه ځينې خلک عادت لري چې کشران او کوچنيان ويروي، هغوی ته قهر کوي او کشرانو سره چې کله خبرې کوي په کرک جنه او له غصې په ډکه لهجه ورسره چلند کوي چې بيا ماشومان تل له مشرانو ويريږي او له هغوی ډاريږي. مونږ په کشرانو شفقت او ترحم د رسول الله صلی الله عليه وسلم له سيرت او تعامل څخه په ښه توګه زده کولی شو.

پر خپلو اولادونو اوکشرانو باندې د رسول الله صلی الله عليه وسلم مهرباني بيخي متفاوته وه. ډيری وختونه به هغې کورنی ته لاړ چې د ده زوی ابراهيم ته به يې شيدې ورکولې، هغه به يې په غېږه کې ونيو، ډير به يې ښکلاوه او مينه به يې ورسره کوله. کله چې اقرع بن حابس رسول الله وليد چې حسن يې په غېږه کې ونيو او ناز به يې ورکاوه، نو هغه ته دا کار نااشنا ښکاره شو. په حديث شريف کې راځي:عن أَبي هُرَيْرَةَ رضي اللهُ عنه قال: قَبَّلَ رسولُ الله - صلى الله عليه وسلم - الحَسَنَ بنَ عليّ، وَعِنْدَهُ الأَقْرَعُ بْنُ حابِس التميميُّ جالِساً، فَقالَ الأَقْرَعُ: إِنَّ لي عَشَرَةً مِنَ الوَلَدِ مَا قَبَّلْتُ مِنْهُمْ أَحَداً، فَنَظَرَ إِلَيْهِ رسولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم -: ثُمَّ قالَ: "مَنْ لا يَرْحَمُ لا يُرحمُ".وفي رواية:فقالَ النبيُّ - صلى الله عليه وسلم -:أَوَ أَمْلِكُ لَكَ أَنْ نَزَعَ اللهُ مِنْ قَلْبِكَ الرَّحْمَةَ؟!). مختصر صحيح الإمام البخاري (٤/ ٦٤)

ژباړه:دابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم حسن بن علي رضي الله عنه ښکول کړ، له رسول صلی الله عليه وسلم سره اقرع بن حابس تميمي ناست ؤ، اقرع ووېل: بيشکه زما لس بچي دي ما تراوسه يو هم نه دی ښکول کړی؟، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وکتل او بيايې وفرمايل:څوک چې په چا رحم ونه کړي، رحم به پرې ونه شي. په بل روايت کې يې داسې ځواب ورکړی:«آيا زه ستا ددې کار اختيار لرم په داسې حال کې چې الله تعالی ستا له زړه څخه مهرباني ويستلې وي؟

د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم به ماشومان ډېر خوښول، د ځان او د هغوی تر منځ یې هیڅ مانع نه پرېښوده، رسول الله به هیڅ کله داسې کار نه کاوه چې ماشومان ووېروي او منزوي یې کړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم  ماشومان له ریحان گل سره تشبېه کړي، ماشومانو چې به کله رسول الله صلی الله علیه وسلم ولید، ورمنډه به یې کړل او ورسره به کېناستل.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به په کوچنیانو او ماشومانو سلام اچولو د شفقت او ترحم په وجه.

عن أنس قال:مرعلینا رسول الله صلی الله علیه وسلم ونحن صبیان فقال : (السلام علیکم یا صبیان). مصنف ابن أبي شیبة (٦/ ١٤٤)

ژباړه: د انس رضي الله عنه څخه روایت دی پر مونږ باندې تیر شو رسول الله صلی الله علیه وسلم او مونږ ماشومان ؤ، نو داسې وویل: (السلام علیکم) ای ماشومانو!رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم د ماشومانو پوښتنه کوله، هغوی ته به یې ناز ورکاوه. د دغه سنت راژوندي کول زموږ د راتلونکي له پاره ډېر مهم دي. مونږ هم باید له ماشومانو سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم  په څېر تعامل وکړو.له ماشومانو سره په تعامل کې، دوی ته رسول الله صلی الله علیه وسلم وریاد کړو، ترڅو د لومړی ورځې څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه او محبت د ماشومانو په زړونو کې ځای ونیسي.

په حدیث شریف کې راځي:«لَیْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ یُوَقِّرْ کَبِیرَنَا وَیَرْحَمْ صَغِیرَنَا».مسند أحمد (١١ /٥٢٩)

ژباړه:نه دی زمونږ له جماعت څخه هغه څوک چې درناوی ونه کړي زمونږ د مشرانو او شفقت ونه کړي زمونږ پر کشرانو باندې.

**اقول قولی هذا استغفرو الله لی ولکم ولسائر المسلمین**
**والسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته**